# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



فرهاد وياړ

۲۴.۰۳.۰۹

## يورانيم

زه يورانيم خورم
لکه چې مدفوع خورم
لکه چې خاورې
دوړې
لوګي او
باروت !

دا مې "دوستان" دي
ملا ته يې برچه
غاړې ته يې ټوپک:
هلمنديه،
واخله دا کنګورې بمونه!

زه يورانيم خورم
ځکه چې مدفوع او باروت خورم
"ياران"
ناست د غونډيو په سر
د ترموباريک بمونه
شيندي
موږ دواړه،
زه هلمندي او بغدادي
زه کندهاري او بصره اى
زه زابلي او نجفي
زه ننګرهاري او کرکوکي
زه کنړي او موصلي
دواړه "تش شوى يورانيم"
خورو
"دوستان"
ترموباريک
کنګورې
او "تش شوي يورانيم"
ما زابلي، بغدادي، کندهاري، موصلي، هلمندي او بصره اى ته

ډالۍ کوي

ځکه زه وږى يم
زه د" دموکراسۍ" وږى!!

زه افغان - عراقى
يورانيم خورم
"تش شوى يورانيم"
زه وږى يم
ستا د" دموکراسۍ" وږى؟!